Afghanistan Digital Library

adl0020

http://hdl.handle.net/2333.1/8kprr51m



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/8kprr51m Image 1 of 10

# نظامنامهٔ

# د نښانو د معارف

په (٢٦) د (حوت) سنه ۱۳۰٦ شمسیه

مطبعه د شرکت «رفیق» کابل کښې چاپ شویدی

شمار د چاپ: ——————— (٥٠٠)

قیمت د یوې نسخې ——————— (۱۱ پیسه)

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامه د نشانونو د معارف

(۱) قاعده: هغه کسان چه نسبت د دوی معارف ته
کیږی، او هغه سړی چه په لار د لوړوالی
د معارف د لوی دولت د افغانستان کښ داسی
کارونه وکړی، چه معارف ته ډیره فائده
ورسوی - مستحق د اخستلو د نشان د معارف
کیږی - نشان د معارف درې درجې وی:-
اوّل، دویم، دریم -

(۲):- د معارف اوله درجه نشان یواځې هغه کسان
حاصلولی شی چه په فراخول او لوړوالی د معارف

د دولت د افغانستان کښې څه خل مت ورآنلے

کړی، او موکه د معارف د افغانستان هغه خل مت

فوق العاده او دیرلوی وکښی لګه:-

الف:- لږ تر لږه شل زره نقدی روپی په کار د وسعت

او فراخوالی د دآښوه د معارف کښې مجنبل:

ب:- ذمه بردار کیده د امور د تنخواه او د نوی

خوښونو د یوسل نفری ابتدائی مکتب ترتیبولو

د دوړی د پنځم کال د هغه.

ج:- په وړیا ذمه بردار کیدلو د سبق وړ ګوګلو د

دوه مضمونو له درسیه مضامینو د ابتدائیه

مکتبو یا یو مضمون له درسیه مضامینو د رشدیه

مکتبو یا دارالمعلمینو تر تمامیدلو د معلومل آخری هغه دوره

د:- لږ تر لږه دری جلده کتاب تالیف یا ترجمه

یا تصنیف کول او وړیا وزارهٔ معارف

ته ئې وړاندی کول. لکن په دی شرط

چه قائله من ترتیب د هغه معارف لره، مرکز

د معارف تصدیق کړي.

(۳):- برسیره په دا چه ذکر شول، دا لاندې سړي هم

د معارف اوله درجه نشان آخستای شي:-

الف:- هغه وزیر او وکیل او معین او رئیسان

د معارف چه یو مناسب خدمت لائق

د قدر په مدة د دري کلو کښې د دوی

څخه څرګند شي.

ب:- هغه وزیران او وکیلان او معینان او نور

رئیسان د لوی دولت د افغانستان چه

معارف د وطن ته ښه خدمت او کړي.

ج:- هغه نائب الحکومگان او اعلی او لوی

حاکمان چه په وقت د ماموریت

خپلو کښې په لار د فراخوالی د دائرې د معارف

په ځای د حکومتي خپلو کښې یو داسې

شان خدمت چه لایق د قدر دې
کړی ئې وي.

د:- هغه پادشاهان او رئیسان د جمهوریې
او وزیران د بهرو ملکونو چه لپاره د بهبود
او ښه والي د معارف د افغانستان په لارې
د پروفیسران یا په بلې واسطې د تعلیم د هغه
ښه توصیه او کوشش وکړی، یا د پښتنو
طالبانو سره په ملکونو خپلو کښې ښه توجه کړې

هـ:- هغه سفیران د پردی دولتو چه کابل کښې مقیم
دي، نظر ور ته وښه والي او آساني د تعلیمي
کارونو له پښتنو طالبانو سره کوشش خو کړې.

(٤):- دوهمې درجې نشان دا لاندې کسان
ته اخستلای شي.

الف:- هغه خلک چه لس زره نقدي روپۍ لپاره
د معارف ورکړي:

ب:- هغه څوک چه یو مضمون له درسیه مضامینو
د ابتدائی څخه تر دوره د پنځم کال یا یو مضمون
له درسیه مضامینو د رشدیه مکتبواو د
دارالمعلمین څخه تر دوه کلو پوری ذمه بردار شی.
ج:- هغه څوک چه دوه جلده کتاب تالیف یا ترجمه
یا تصنیف؛ او د وزارت معارف ته ئی ورپیا
وړاندی کړی په هغه شرط سره برابر چه په
جزء د (د) د دوه یمه ماده کښی ذکر دی.
د:- هغه څوک چه د ټولو ښوونو د یو یا پنځوس نفری مکتب
تر تمامیدلو د دوره د پنځم کال د هغه، ذمه
برداره کیږی.
هـ:- هغه مدیران او مفتشان او مامورین او
معاونین د معارف چه لږ تر لږه په مدة د
دری کلو کښی ئی یو ښه خدمت
ښکاره کړی وی.

و:ـــ ټول هغه مدیران او ماموران او معاونان
د نورو وزارتونو د لوی دولت دافغانستان
او حاکمان د اوّل او دویم او دریمې درجې
چه په لار د معارف کښې څه خدمت
او کومك وړاندې کړی، او ونا
د معارف هغه خدمت لائق د ورکولو
د نشان وګڼلی.

ز:ـــ هغه معلّم چه نیمائی د داخله د یو جماعت
په درسیه مضمون د ده په آخری کال
د رشدیه یا د دارالمعلمین کښې نوی ۹۰ له سلو
وګڼلی.

(۵) مـ د دریمې درجې نشان دا لاندې کسان
اخستلای شی:ـــ
الف:ـ هغه څوك چه پنځه زره نقدی روپی
ورکړی.

ب:- هغه څوك چه په يوله ابتدائي مكتبو
څخه تر دری وو ټولو، او په رشديه
مكتبو او دارالمعلمين كښې تر يو
كاله پوری ورپا تعليم وكړی.

ج:- هغه څوك چه يو جلد كتاب تاليف يا
ترجمه يا تصنيف او وزارة معارف
ته ئې وړه يا وړاندې كړی په شرط
د جزء (د) د (۲) مادی.

د:- هغه څوك چه يو كلی خرڅ د ابتدائي
نشری مكتب ذمه برداره شی.

هـ:- هغه شاګرد چه پس له ختمولو د
آخری دوره د صنفونو د رشديه په
حاضری او اخلاق كښې اعلى نمره څخه
اول نومره واخلي يو الايق د مكتب څخه
اول وی- يا په آخری دوره د عالی مكتبو

شهزادګانو بالرسولو څخه په تولو د رسمیه مضامینو کښی ورکېږي .

(۶):- هغه څوک چه پس له حاصلولو د نشان د معارف «چهټه» یا «مجتبا» ورکړي-ق د ځوښتنه ورلو د نشان نه لوړ ته ترقی اضافه کیږي .

(۷):- هغه کسان چه دغه نشان پوره لېږدېږي نشان څخه حاصل کړي بايد چه د چپړو معنی نشان څخه وزارة معارف ته بیرته ورکړي .

(۸):- که څوک سرېړي د اخذ متونو په لاره د معارف کښی کړی چه په دې پاس د امداد کیږي ښکاره بیان شوي دی مرکز د معارف هغه خلق متونو په صورت د امتحان کښی د پاس د درجه برابر کړي؛ هغه نشان چه مستحق ئې دی هغوی ته ئی ورکوي .

(۹):- په ولړ د دینه چه استحقاق د کم ترېښه حاصلولو د نشان لپاره دی نظامنامه د نشانو نو په سرو مرکز د معارف له خوا په سه تحقیق او شو ورکول د هغی له حضور د اعلیحضرت غازي تصویب او فرمان د په دستخط د (اعلیحضرت) سره مزین کیږي .

په داخلولو د دې نظامنامي په جمله د نظامنامو د دولت کښی امر او اراده کوم .